# موړا اختر نلرو



حبيب الله غمخور
۲۰۰۷م کال دلکتوبر ۹




په غمونواوخواريوکښي دتروشپوسبا کوونکو ،زوربدلو ،کړيدلواوذوکلېدلو هيوادوالو !

پدې پوهېږم چي ټول يوځاي دپردوپلاس لگېدلی لعنتي اورپه لمبوکې سوځو. دپاکستان اويو شمير نورو گاونډيانو په لمسون اوبهرنيو پوځي ځواکونودخپل سرېواوخودغرضيو په پايله کښي هره ورځ دافغان پر کور دويرتوره کمبله غوړېدلې وی.

دنړۍ پر مخ بل داسي هيواد او ولس نشته چي پدې بې رحمانه شکل دي دبهرنيانودگټوقرباني وي ،همدا افغان غيرتي ملت دی چي دغه ظلم او تېری ته يې اوږه ورکړې اوملايې نه ماتېږي ، هره ورځ دزړه ټوټه دروښانه راتلونکی په اميد دلاسه ورکوي،افسوس چي دا دربړش کلنه توره شپه سهارنشوه ،خداي پوهېږي چي دا دومره اوږده ،زړه بوږنوونکې اودردونکې شپه به کله دانسانيت اوحقانيت دلمروړانگي روښانه کړی. اوددې بدمرغيو ،خواريو اوناميديوتورتغرکله به ټول شي؟

بلې غيرتي موری !

ستامقام تر هرچا اوچت دی.دټولوغمونوسره چې ستاملايي کړوپه کړيده تربل هرچاستاسره دزړه خواله اوغم شريکي ډيره ښه کېږي .

مورې ! اوس ليوني هم پدې پوهيږي چې ستا په سترگو کښي اوښکی نوري وچې شوی دي ،دريابونه خوتري جوړ شول ، داچي ددې اوښکو سيلاب به کله ستا ،ستادبچو اوستادکاله دښمن لاهوکوې نه پوهېږم ،پدې هکله چې هرڅومره فکر کوم عقل مي عاجزپاته شي ! په ټول نړۍ کښي ستا دبې وزلوبچو چيغي اوناري دعرش عظيم ترمنارووررسېدلې ،خوهلته او دلته دټولوغوږونه کاڼه دي اوسترگې يې ړندې دي چيغو اسمانونه په لړزه راوستل ولې ستااو ستا دخاوري دښمن يې له ځايه ونه ښوراوه. نه پوهېږم چې دلته ولې دومره بې تاثيره دی ؛ داولې ؟

ادې جاني ! ممکن دليل يې داوي چې ستا ځيني نا فهمه او نا اهله بچي سهار او ماښام ددي لړزېدلي او نړېدلي خيمې موږې په خپلو لاسو باسی ،دپردو غلامي کوي ،داغلام هغه ليوني ته ورته دی چې ټول دغم پر کمبله ناست ،اوژاړې ،خو دی ورته خاندي. وايي (( ديوانه زنده خوش است )).
که ستا دبچو په عوض بل هرولس وايي هلته به پر هر کور او کنډواله ټول کال دماتم توري جنډې رپېدلاي. هلته به داختر اوجشنو خبره دهيچا پرخوله نه راتلاي. په رښتيا ستاله کوره خندا ،خوښيو اوښاديو لاډېر پخوا کډه کړېده ، اوس له ډاره ځوک ودونو ته نشي تلاي ،هرځوک وايي کوم اختر؟ دچا اختر؟ ستاله کوره خو يوازي دژړاساندی راوزی ، ،ستاله کوره هره ورځ په لس گونو نازولي اودگلاب پشان ښکلي زلمی او پېغلی دتياره گورپه په لوردرومی ،ستانازولي بچي دلوږې کله دسوځوونکي لمراوکله بيااويخنۍ نه رپېږی اوفرياد کوي ،دناروغۍ پر بسترپروتدی درمل اوډاکترپه خوب ويني .کلي کورونه خودي يوپه بل پسي دزبر ځواکوپوځونولخوا دتروريستانودترټلواوهغوی دجرړودايستلوپه نامه ورانېږي ،باغونه چې څه موده وړاندي زرغونه شوی وه ،خلکوئې ميوې هوس اوانتظار درلودبېله دېنه چې غنچې ئې گل شی دادی بياژړېږي ،ورته وگوره داسي نهده ؟ همداسي ده ! په ويالوکې بياروانی اوبه اوچېږي ،وچکالي نه راځې ،خوميراو او بزگر نسته چې هرڅه سمبال کړی ،دانسته ها نسته هرې خواوحشت اوتورې دوړې پورته کېږې ،خداي دې خير کړی چې بيا څه پېښېږی.
موري،ادې جاني !
په يوه سبب خوهغوي ((دابهرنيان دريادوم ))هم ملامت ندي ،موږ ورته وويل راشئ اوزموږ هغه کورچې څه موده پخوامودپردوپه هڅونه پخپله ورانکړی ، راته جوړکړی. داموږ ددې لپاره شرايط برابرکړه چې اوس دوي زموږ په کورکې اوزموږپر کمبله راته دهرڅه د لار ښودنې حق لري. پدې باور لرم اوراسره قانع شه، که ستابچو ته خپل کور، کهول اووطن گران واي،داحساساتواوبې ځايه غرورنه ئې کارنه اخيستلاي ،لکه دنړئ دنوروملکونو خلک دهرې خبري اوهرکارپه هکله ئي فکر،يودبل سره مشوره کولاي اويودبل مشورې ته ئې غوږنيولاي ،دوست اودښمن ئي پېژندلاي ،اوددومره ساده اودسپېڅلي زړه خاوند نه واي چې اوس هرکس اوناکس دهرځاي چې وي اوهر چيري چې وی حه ورته ووايي هغه کوی ،داسلام دسياسي سوداگرودسوداگريوقرباني نه واي اوداسلام په نامه ئې په هغه داسلامپرخلاف کارونه نه کولاي ،داحالت به دي نه واي ليدلی. دنړۍ دنوروهيوادد خلکوپه شان به دهوساڅوند خاوندان واي.
موږ په خوله وايو وطن راته گران دی خودوطن دښمن مودلږ ولگښتونوپه مقابل کې داسي ورانی. ته هڅوی چې جوړېدل يې بياناشونی کار وی. ولې موږخيرات خور اوتل دبل ورحم ته سترگی پلار اوسو؟ ولې زموږوطن پردی راته جوړکړي ؟ پدې پوهېږوچې پردی ئې دخداي په جات نه راته جوړوي.ولې موږپخپلو کې دپخلاينې روحيه نلرو؟ اودپردېولوموته پام نه کوو؟ اوداسي په سلهااو ولې. .. ولې ؟ .. ولې .... ؟ چې له بدمرغه زموږئې جواب زده دی خونه پوهېږم چې ولې ئې پرخوله نشو راوړاي.دادچاپه سحراوجادوکښې ښکېل پاته يو؟؟؟
زوربدلي هيوادواله !
موږدلته په اروپااوتاسو هلته به نړېدلي اوکنډواله افغانستان کې ، دواړه کوم اختر لرو ؟ دکوم اختر مبارکي يو اوبل ته سره وايو؟ موږ هم دعراق اوفلسطين دخلکوپه څيرهره ورځ دځان مرگی بريدونو اوچاوديدونکوتوکواوهوايي غونډاروپه پايلو کښي په وينو لړلی هډوکي اودغوښو ټوټې راټولوو ،نوداخو ، خوښی ته نه پاته کيږي ؟اونه موږ دنړۍ دنوروخلکوپه څيررښتيانی اختر لرو. يو وازي هغو چې کليزه (جنتري) ليکل ددې لپاره چې دا دود مو دراتلونکی نسلونو بېخي هير نشي دعادت له مخي ئې ليکلی چې پدغه ياهغه ورځ اختر دی. اوکه ځان وغولوو ،اوداومنو چې اختر دی ،بيانو په موږ اوتاسو کي خودا دود شته چې داخترپه لومړۍ ورځ دهغو ددوستانو او همسايه گانوليدو اودرناوي ته ترټولولومړی ورشو چې له کوره يې مړی وتلی وي ،غم ولري ؛
اوس نوراته ووايه !ايا داسي کوردرمعلوم دی ؟ چې زړه يې دمرگ غشی نه وي زخمي کړی ؟آياداسي کور پته لري چې هلته ځوک وخاندي ؟اوستايازماپه لېدوئي په سترگوکښي دغم داوښکوډنډونه جوړنشي. داسي کورشته چې هلته دفاتحې اوغم کمبله نه وي اواره؟ فکرنه کوم
نو اختر خو په فاتحو تيرشو ؟

بلې ! زموږ ولس اختر نلري.
دادنوروا اختر دی
دا دنازولوا اختر دی
دادلیونوا اختردی
موږ اختر نلرو
ترڅو به زموږپه کورکې دمبارک دبشه غږپورته نشی.
ترڅو به زموږپېغله لاسونه سره نکړی اوزلمی به مودا خترپه جامو سنگارنشي.
زموږ نه خوښیوا اخترونودېرې مودې لپاره مخ اړولی دی.
فکرکوم له ازله زموږدولس په برخه غم اوژړاده !
نه پوهېږم دکومې گناه له مخې ښتن تعلا پردې ولس دخوښیولوریېنه نده کړې .
په اختراوښادیوکښې هم زموږ دکور دړه دغم اومرگ جارچیان راټکوي .
عزرائیل ستړۍ شو ،خوزموږغمونه اوسترگی په اوښکوتویدوستړی نشوې.
افغان مېړنو !
رابیدارشې ! دکورپه نس کښې مو دادی اوس پاکستان مینونه ښخوی اویاپه اغزن دیوال زموږکور وېشی !
بل دې دجوړیدوپه نامه ورانه وی ،وایې نوی کوردرجوړوم.خوکورونه په گوربدل شوه. ښارونه په هدیرو.
ایراني اخوندان ،دادا سلام دروغجن دوستان ،دادافغاولس تاریخي دښمنان ،دا ستادکلتور،تاریخ ،فرهنگ ،ژبې اوبسیاژوند مختورسیالان.
ورته گوری چې یوځل موو طن پرېښېدوته اړباسي؟ اوبل ځل مودرمو پشان له خپلی خاوري شړی. دادی دایراني اخوند انوانصاف ؟ دادۍ ددوي اسلامي اخوت؟ ښه ورته خیر شه ،اوپدې کښې هم فکر وکړه ،چې ولې داسي درسره کوي.

دابه موهم اوربدلۍ وي چي له آمریکاسره زما اوستاپه خاوره کې دښمنۍ ته چان جوړوي ؟
په ړیره اولنگوټه ئې مه ختاوزه ؛دادا سلام په نامه په نړۍ کې ترټولومشهور سیاسي تاجردی.
له پاکستان اوایران څخه دابايد زده شي چي ددوي هغه شیخان اواخوندان چې زما اوستاپه زلموپسې بمونه تړئ اودجنت ددروازې کلې ورکوي ،خوخپل هیواد دعلم اوتخنیک څخه په گټه اخیستوجوړوي ،دنړۍ سره ئې داټومی وسلوپر سرسیالي راپیل کړې ؛خوموږته وایی وطن په جهاد آبادېږي.
داده ،موږته دپاکستاني اوایراني جنرالانو ،کرنیلانو ،اخوندانواوشیخانود اخترډالۍ.
دا بايد هیر نکړی !ترڅیره بریده همدا پاکستان او ایرن وچې زموږ په خاوره کښې یې دپخوانی شوري او اوس ئې دامریکا یي او اروپایي هیوادودپوځی شتون امکانات برابر کړل.
موږ اوتاسو ته هغه دپاڼ اوپړانگ مسله راپېښه ده ، دفراراوځان ساتنې لار رانه ورکه ده.
اي هیوادواله فکروکړه !
رابیدارشه ،پام وکړه شاوخواوگوره ،نوروته ځېرشه. هغوي څه کوی اوته په څه مصروف یې.
په زورکلي نه کیږي ،په زور قدرت ترلاسه کول دایمي نه وی ،بله لار غوره کړه ،هغه لار چې داکړېدلۍ ولس له دغه حالت نه نجات ومومي ؛له هوانه یې بهرنیان په راکټواوبمنو ولی اوپر مځکه نه یې ستادهیوادبې پاسه گاونډیان ستاپوسیله په ځان مرگې بریدواوماينو وژني.

اخیر داخو هم انسان دئ !
داخوستا وطنداردی.
په دوي ته زورېږي او خوارېږي
دولتي جګپوړو چارواکو ته مراجعه نوره بېځايه بلل کېږي.
له هغوي نه نور دافغان ولس طمعه شکېدلې ده. هغوي تر ډېره بریده په خپلو کړنو د اوسنی ناورین امکانات برابر کړل.
دوي دی خپلې چړچې او مېلې کوي ،په رښتیا اختر لري او حق لري خوښی وکړی ،ځکه داحق بل چاورپه برخه کړئ دی .
زه داوښکونه پړکوسترګو دلوي خداي دربارته لاس پورته کوم اوپدې دعايي پاي ته رسوم.
چې اي لويه څښتنه !
ته ولې پرموږ دومره په قهر اوغضب يې ؟ولې زموږ سره دومره ظلم کوي ؟او ولې دخپلو ظالموبنده ګانو په خير دافغان اواز چې دا ديرش کاله چيغي اوناري وهې نه اوري ؟
دا ولې ؟ افغان ولس هم ستا بنده ګان دی ،پرهغوي رحم وکړه ؛که يې لانورهم وزوروې ،ګوره لويه خدايه ! وډارشه که يې دصبرکاسه ډکه شوه، نودنوح عليه سلام دوخت طوفان به ځینې جوړ شي ،دنيا به غرقه اودقدرتونومانۍ به يوپه بل پسې ړنګی کړې.
ددې زورېدلي مور اوبې پلاره ماشوم اوازواوره !
پر افغان ولس رحم وکړ.
ترګناهونو راتير شه !
که دي تر اوسه له چانه مور اوچانه پلار اخيستی ،يادي موراوپلارله ماشوم نه محروم کړي ،پردې ماشومانو ،دوچوشونډواودغم په اوښکودسروسترګوپرخاوندانونور دخوښيو اواخترونولوربينه وکړه.
موړاوس اختر نلرو !
پدې هيله اوامید چې يوه ورځ زموږ ماشوم ،مور ،خور ،لور اوپلار هم اختر ولري. پای